SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارګان

پنځم کال څوارلسمه ګڼه پرله پسې (۳۰۱). یکشنبه د ۱۴۲۰هـ ق کال د ذوالقعدة الحرام (۱٤)د۱۳۷۸هـ ش کال د کب (لومړي)د ۲۰۰۰ میلادي کال د فبروری (۲۰)

په دیره اسمعیل خان کی میشت افغانی مهاجرین :

مونږ د ژوندانه تر وروستی سلګی د اسلامی امارت تر څنګ جهاد ته تیار یو

په دیره اسماعیل خان کی د هیواد دبیلابیلو قومونو میشتو عالمانو مشرانو او جهادی قوماندانانو پرون دیوی پراخی غونډی په ترڅ کی د نړی د هیوادونو لخوا دافغانستان داسلامی امارت د په رسمیت پیژندلو غوښتنه وکړه.

دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړی په دی پراخه غونډه کی چی دسلیسانخیلو ، خروټو ،خدرانو ، سلطان او د پتیان د بیلابیلو قومونو ، علمای کرامو ، مشرانو ، او جهادی قوماندانانو ګډون کړی و . لومړی دمحترم قاری ثمر ګل لخوا دکلام الله مجید څو مبارک آیتونه ولوستل شول او وروسته محترم قوماندان عبدالله جهادوال سلطانی ، محترم مولوی محمد ایوب هاشمی ،

محترم مولوی محمد دین ، محترم مولوی سلطان عزیز او قومی مشرانو محترم بهادر ګل ، محترم غلام محمد او محترم ملک عظیم خان په وار سره دبیلا بیلو موضوعګانو په باره کی هر اړخیزی خبری وکړی.

وینا والو دخپلو خبرو په ترڅ کی وویل مونږ دخپل ژوندانه تر وروستی سلګی پوری ٤ مخ

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ ناسې !، همدا (عدل) ډیر نږدي دی تقوا(پرهیزګاری) ته . (سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتی بگذارید.

محترم پروفیسور داؤدیار استاد پوهنتون هیوارد کلفورنیا :

امارت اسلامی افغانستان

از قانونیت و مشروعیت کامل سیاسی برخوردار است

هدف جهاد مقدس مردم افغانستان معدوم ساختن نظام الحادی و استقرار نظام اسلامی درکشور بوده است

تلاش هایی که در روم قبرس وبن به راه انداخته شده هیچ کاری را به پیش برده نمیتواند

مشروعیت و قانونیت امارت اسلامی افغانستان با گذشت هر روز ابعاد گسترده کسب نموده حلقات و اشخاص حقیقت پسند آن را تایید مینمایند محترم-

پروفیسور داکتر داؤد یار یك تن از افغانهای مقیم ایالات متحده امریکا و استاد پوهنتون هیوارد ایالت کلفورنیای شمالی امریکا طی مصاحبه یی که

باخبرنگار اختصاصی آژانس اطلاعاتی باختر انجام داد در رابطه به مشروعیت وحقانیت امارت اسلامی افغانستان گفت: مشروعیت و قانونی بودن امارت-

اسلامی افغانستان قبل از همه چیز دیگر ازخواست و اراده اسلامی وملی مردم افغانستان نشئت میکند جهاد مقدس مردم افغانستان و قربانی های بزرگ که

مردم مظلوم افغانستان در این راه متقبل شده اند ثابت میسازد که هدف همه این قربانی ها و محنت کشی ها معدوم ساختن نظام الحادی و استقرار یك نظام ص ٤

محترم رئیس الوزراء با محترم شیخ عبدالعزیز نورستانی ملاقات نمود

محترم الحاج ملا محمد ربانی رئیس الوزراء امارت اسلامی افغانستان دیروز محترم شیخ عبدالعزیز نورستانی را غرض ملاقات به حضور پذیرفتند.

آژانس اطلاعاتی باخترخبر میدهد : طی این ملاقات در حالیکه تعدادي از علمای کرام نیز حاضر بودند روی یك سلسله موضوعات ذیعلاقه بحث و تبادل نظر صورت گرفت .

محترم وزیر مخابرات از بخش هاي مختلف ریاست مخابرات ولایت فاریاب دیدن نمود

محترم مولوی یارمحمد رحیمی وزیر مخابرات دیروز ضمن بازدید از بخش های مختلف ریاست مخابرات ولایت فاریاب امور واجراآت آنریاست رامورد غور و بررسی قرار داد.

آژانس اطلاعاتی باختر از ولایت فاریاب خبر میدهد : محترم وزیر مخابرات که در رأس یك هیئت اخیراً عازم ص ٤

به تأسی از هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین :

جلسه رؤسای زون های کشور برای سومین روز تدویر یافت

بتأسی از هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین جلسه رؤسای زون های کشور برای سومین روز تحت ریاست محترم ملا عبدالرزاق آخند وزیر امور

داخله روی بحث پیرامون موضوعات اداری و امنیتی کشور تدویر یافت.

آژانس اطلاعاتی باختر خبر میدهد: جلسه متذکره که به اشتراك ص ٤

دایران په ټاکنوکی :

له اصلاح پالو څخه ځواکمن ملاتړ څرګندشو

دایران دپارلمانی ټاکنو لمړنی نتیجی له اصلاح پالو کاندیدانو سره ځواکمن ملاتړ څرګندوی د ۱۹۷۸ کال اسلامی انقلاب را په دیخوا

دالومړی ځل دی چی دومره ډیر خلک په ټاکنوکی برخه اخلی . داسی ښکاری چی اصلاح پالو دلومړنیوشپیتو ځوکیو زیاته ٤ مخ

د بهرنیو چارو وزارت محترم معین :

دافغانستان اسلامی امارت بشری توپیر مردود بولی

دافغانستان داسلامی امارت دبهرنیو چارو وزارت معین پرون له غرمی مخکی په کابل کی د آی . سی . آر . سی کمیټی له مرستیال سره داړوندو

موضوعګانو په باب خبری وکړی.

دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړی دبهرنیو چارو وزارت معین محترم ملا عبدالجلیل آخند پرون په کابل کی د آی .

سی . آر . سی کمیټی له مرستیال ښاغلی مارتین امائر سره وکتل او دغی په ترڅ کی یی ددغی کمیټی دمرستیال لخوا دتر سره شویو کارونو او فعالیتونو ٤ مخ

بل کلنتن بار دګر خواهان حل سیاسی معضله چیچن ګردید

بل کلنتن رئیس جمهور ایالات متحده امریکا بار دیګر از روسیه خواسته است که برای قضیه چیچن یك راه حل سیاسی جستجو کند رئیس جمهور ایالات متحده امریکا طی ملاقات با سرګی-

ایوانوف رئیس شورای امنیت روسیه-نګرانی خود را در رابطه با وضع ناګوار بشری در چیچن اظهار نمود.

روسیه مبتنی برسیاست اشغالګرانه خود همچو در خواستهای ایالات ص ٤

په سرخ پارسا کی د قرآن کریم د تلاوت سیالی تر سره شوه

د پروان ولایت د سرخ پارسا ولسوالی دشهید حجت دمدرسی د پنځه سوه تنو طالبانو په ګډون په دی وروستیو وختو کی دقرآن عظیم الشان دتلاوت سیالی وشوه .

دباختر داطلاعاتی آژانس خبر راکړی دکلام الله مجید دختم مراسم چی داستادانو او طالبانو لخوا د پروان ولایت دسرخ پارسا ولسوالی دحضرت بلال (رض) په جامع جوماتی کی پر ځای شوی و و پنځه سوه تنو طالب العلمانو پکی ګډون کړی و چی ځلوېښت تنه یی دنغدی جایزو مستحق و ګرځیدل او دمحاذ دعمومی آمر محترم مولوی عبدالغفار لخوا په غوره زده کوونکو باندې پنځه ملیونه افغانۍ وویشل شوی.

کشمیری مجاهدینو دیارلس تنه هندوان ووژل

کشمیری مبارزینو پرون دیوه ماین دچولو په نتیجه کی دیارلس تنه هندی اشغالګر عسکر ووژل .

هندی مامورینو اعتراف کړیدی چی ددغه هیواد دپولیسو لس تنه افراد

دکشمیر په یوه کوچنی ښار ګوټی کی دماین دچاودلو له امله وژل شویدی.

دغه ښار ګوټی د سرینګر په پنځه دیرش کیلومتری کی پروت دی ، ددغی چاودنی له امله لږ تر لږه شپږ تنه ٤ مخ

محترم مولوی سعید احمد «شهید خیل» معین اداری وزارت معارف در مصاحبه با خبرنګار هفته نامه شریعت :

کار ترمیم، رنګمالی وشیشه اندازي ساختمان وزارت معارف ۹۰٪ صورت پذیرفته است

شریعت : علاقمندان ګرامي! بالأثر توجه خاصي که مقامات بلند پایه امارت-اسلامي افغانستان به کار احیاء و باز-سازي تأسیسات عام المنفعه کشور دارد،

چندي قبل کار ترمیم و احیاي مجدد ساختمان وزارت معارف آغاز و تا کنون ادامه دارد خبرنګار ما در ارتباط با موضوع فوق با محترم مولوي سعید احمد-

«شهیدخیل» معین اداري آن وزارت مصاحبه، را انجام داده است که توجه شما عزیزان را به آن معطوف میداریم.

محترم شهید خیل ګفتند : ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

دافغانستان حالات او داسلامی هیوادونو دتولنی نوی هلی ځلی !!

په تیره اونی کی داسلامی هیوادونو د ټولنی یو پلاوی یو ځل بیا په دی تکل چی په افغانستان کی د سرتاسری سولی دټینګښت لاری چاری لټوی ، په خوځیدو شو نوموړی ټولنی خپل یو پلاوی دایران د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال محمد جواد ظریف په مشری په دی هکله ګومارلی تر څو دسیمی هیوادونو او سعودی عربستان ته سرورښکاره کړی او ددوی په وینا په افغانستان کی د سولی د رامنځته کیدو لاری چاری ولټوی ، داسلامی هیوادونو ټولنی چی ۲ مخ

خدمات صحی برای برادران و خواهران یکسان رایګان است

شریعت : محترمه دوکتورس شیما «عظیمي» از بخش سرویس داخله اناث در شفاخانه حوزه وي هرات، طي مصاحبه یی میګوید : تجارب نشانداده که هر خواهر مریض همزمان با تکلیف و نقص جسمي، از یکنوع بحران روحي نیز رنج میبرد سعي من بر آنست تا با ملاطفت و

مواظبت توأم با دلسوزي، ارتباط نزدیك و صمیمانه با مریض خود برقرار نموده و همزمان با تداوي و معالجه جسمي مشکل روحي وي را نیز آرام و بر طرف سازم. استفاده از این شیوه یکي از رموز مهم موفقیت مرا در بخش داخله خواهران، فراهم آورده است .

وي افزود : به نظر من برخي

کشور هاي خارجي، بجاي انتقاد از عدم شرکت زنان در فعالیت هاي صحي و یا عدم دسترسي خواهران افغان به دوا و داکتر (که طبعاً حقیقت ندارد) باید به میزان کمك هاي عملي شان درین بخش مي افزودند زیرا امکانات اندك شفاخانه ها تکافوي جمعیت کثیر مراجعین خواهر ما را نمیکند و ص ٤

امریکی دسودان دتیلو په سودا ګری بندیزولګاو

امریکی خپلو سوداګری ټولنو ته امر کړی چی له سودان سره دتیلو هر ډول پیرنه پلورنه بنده کړی ، امریکی چارواکو څرګنده کړی چی دسودان مشران دتیلو په تجارت کی ګټلی پیسی دیاغیانو په خلاف جګړو کی لګوی ، په بندیزکی امریکایی کمپنی دسودان دتیلو له پیرودلو ایساری شوی او دا بندیز نه ورته شوی چی که دسودان دحکومت څه پانګه ورسره وی ، هغه به د امریکی دحکومت له خوا کنګل او څوک چی بیاهم په نوموړی سوداګری لاس پوری کړی پنځوس لکه ډالره تاغه کیږی . باغیان له څو کلو راهیسی دحکومت سره په جګړه بوخت او دامریکی دهر ډول مرستو څخه برخمن دی.

د «کونړ» مجلی وروستی ګڼی ترکره کتنی لاندی ونیول شوی

دکونړ ولایت دسیمه ییزی مجلی په وروستیو ګڼو باندی پرون دیوی ادبی غونډی په ترڅ کی کره کتنه وشوه .

دکونړ له ولایت نه دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړی دغه غونډه چی دکونړ ولایت داطلاعاتو او کلتور درئیس او ددغه ولایت دلیکوالو او ادیبانو په ګډون جوړه

شوی وه . له هغه ورسته چی دکلام الله مجید څو مبارک آیتونه ولوستل شول برخه والو لیکوالو او ادیبانو دکونړ ولایت د سیمه ییزی مجلی په څلورو ګڼو باندی دخپلو کره کتنو په ترڅ کی چی په دی وروستیو وختو کی چاپ شویدی خپلی نظریی څرګندی کړی.

وروسته په مجله کی دمضمونو ٤ مخ

دتاجکستان دملی امنیت مرستیال وزیر ووژل شو

دتاجکستان پلازمینی دوشنبی کی دیوی چاودنی په اثر دملی امنیت دوزارت مرستیال «شمسلوزیبروف» هغه وخت ووژل شو چی په یوه کارخانه کی غونډی ته دخپرو په مهال په یوه واړه موټر کی

چاودنه وشوه ، داپیښه په یوه داسی وخت رامنځ ته شوه چی د تاجکستان پارلمانی ټاکنو ته ایله لس ورځی پاتی دی او نوموړی په دغو ټاکنو کی یو مهم امید وار ګنل کیده.

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مسرستیال : غلام محمد «فاروق»
دبوي گڼي بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

ایران یې اوسنی مشري په غاړه لري نوموړی نوښت او هڅو ته داسلامي نړی سیاسی څیړونکی چندان په غته سترگه نه گوری او نه د کومی مثبتی پایلی هیلی ترینه کوی دا په دی خاطر چی همدا اوس اوس د افغانستان په پرتله داسلامی نړی په ځینو نورو هیوادونو لکه چیچنیا ، کشمیر ، لبنان او ځینو نورو کی حالات ډیر کړکیچن دی او هره گړی دنوموړو هیوادونو مسلمان وگړی دکفری ځواکونو له مرگونو گوزارونو او وحشیانه تیریو سره مخامخ دی، خو داسلامی هیوادونو تولنی د هغوی په هکله هیڅ کوم داسی رښتینی گام اوچت نکړ ترڅو دنوموړو اسلامی هیوادونو بیوزلی اوسیدونکی د دښمنانو له ظلمونو څخه وژغوری خو دلته په افغانستان کی چی حالات یې له سلو څخه په نوی برخه کی د داډ وړدی ځان دمسلمانانو خوا خوږی ښیی او په اصطلاح دسولی درامنځته کیدو په هکله هلی ځلی کوی ، که رښتیا دافغانستان دمسلمان ولس په هکله ددوی رښتینی خواخوږی موجوده وی نو باید نوموړی تولنی په نړیواله کچه له خپل ځواک څخه کار اخیستی وای او ملگری ملتونه او دامریکی متحده ایالات یې دی ته اړ ایستلی وای ترڅو د افغانستان په مظلوم ولس خپلو ناروا اقتصادی بند یزونو ته دپای ټکی کیږدی خومتاسفانه چی نوموړی تولنه ددی پرځای چی دنړی دمسلمانانو او افغانانو رښتینو ستونزوته پام وکړی هسی په تشریفاتی منډو ترړو هم خپل استاځی ستړی کوی او هم د یې گټیو هلو ځلو په نتیجه کی د نوموړی تولنی نړیوال حیثیت چی هسی هم مړی ته ورته دی لاپسی زیات دخندا وړ گرځوی ، که په رښتیا داسلامی هیوادونو تولنه مینه او هیله لری ترڅو په ټول افغانستان کی پوره سوله او سوکالی رامنځ ته شی نو د اوږدو اوبی پایلو هڅو پرځای دی دافغانستان دعینی واقعیتونو په بنا ء دحل لنډه او آسانه لاره غوره کړی او په نوموړی ډگر کی دی عملی گامونه اوچت کړی .

داسلامی هیوادونو تولنی او ټولو نړیوالو ته ښایی چی په اوسنی وخت کی دسیاسی مسئلو په هکله دتصمیم نیولو په ډگر کی ددغه نړیوال اصل چی د اکثریت غوښتنی دقدر اوتعمیل وړدی او اقلیت باید داکثریت پر لاره روان شی پیروی وکړی او دافغانستان په شمال شرق کوچنی سیمه کی میشتو داسلامی امارت مخالفینو ته دا توصیه وکړی ترڅو له خپلو بی ځایه او غیر منطقی غوښتنو او بغاوت څخه لاس واخلی او داسلامی امارت پر لیکه چی دافغان مسلمان ولس رښتینی غوښتنه ده قدم کیږدی او په افغانستان کی دی پاتی کړ کیچ ته منطقی پای وروبښی ، البته داکثریت او اقلیت له کلمو څخه مو د قومیت او یا ژبی پرینا زیاتوالی او کموالی مطلب نه دی بلکه له نوموړو اصطلاحاتو څخه مو دهیواد دسیمو او خلکو دپلویتوب له ډیربنت او کمښت څخه مطلب ده چی پرته له شکه له اسلامی امارت څخه له قومی ، ژبنی او سیمه ایزو ملحوظاتو پرته دافغانستان په سلو کی تر پنځه نوی زیات اوسیدونکی ملاتړ کوی خو له مخالفینو څخه حتی دهغوی دمشرانو دکلی او سیمی خلک هم حمایت نه کوی ، نو ښایی چی داسلامی هیوادونو دتولنی اوسنی پلاوی نوموړی آسانه لاره غوره او دافغانستان حالاتو ته آسانه د حل لاره ومومی ، که په رښتیا په خپلو هڅو کی مخلص وی او له اوسنیو هلو ځلو څخه یې مطلب دافغانستان داسلامی امارت مخالفینو ته دبیا هویت او تشخیص ورکول نه وی او که نه نوښه ده چی زموږ پر ځای د چیچن ، کشمیر ، لبنان او نورو هیوادونو دمسلمانانو په هکله خپله دغه لورینه !! ولوروی او هلته خپل «مسئولیت» سرته ورسوی .

په افغانستان کې د پوره خپلواک اسلامي نظام جوړول د افغانانو مسلم حق دی

پوهنیار دیپلوم انجنیر شریفه

افغانانو د تاریخ په اوږدو او پیچلو مراحلو کی د خپل وطن نه د دفاع په کار کی د میړانی او قربانی تاریخ گټلی او ډیر وخت یې د خپلو قربانیو په قیمت ټول بشریت ته د ازادی، خپلواکی ، دموکراسی ، امن او په سوله کی د ژوند کولو ځلانده مثالونه وړاندی کړی دی.

که د معاصر تاریخ پاڼو ته ځیر شو ، وینو چی کله د ځمکی د کړی زیات شمیر اولسونه او هیوادونه د انگلیسی واکمنی په منگولو کی ښکیل وو او ددی امپراطوری په ابعادو کی لمر نه ډوبیدو هغه وخت حتی چا په خوب کی هم ددی ځواک سره د خپلی ازادي د تر لاسه کولو جرئت نشواي کولاي خو کله چي د افغان ولس په وړاندي دا مقتدر شیطاني ځواک د ماتی سره مخ او د افغانستان د ازادی منلو ته اړ شو نو بیا د بشریت په تاریخ کی د ازادی گټلو او استعماری ټغر ټولیدنی یو مکمل دوران پیل شو او د نړی ډیر ولسونه یو په بل پسی د ازادی د نعمت نه برخورداره شول.

روسان هم د شیطانی تکبر او غرور لوړو پوړیو ته رسیدلی وو د منځنی اسیا په اسلامی ملکونو قفقاز او د بالتیک اخوا پوری یې د شوروی په نوم د شلمی پیړی امپراطوری قایمه کړی وه په یورپ یې خپله فاتحانه نقشه تطبیق او نیمه اروپایی د خپلی جامدی ایدیالوژی په ځنځیر کی ښکیل کړی وه د امریکی په لویه وچه کی یې نفوذ تردی حدّ قوت موندلی وو چی حتی امریکایان یې د ځمکی لاندی جوړوشو پناه گاوو باندی یې باوره کړل او ځانته یې په فضا او کیهان کی د تیښتی او پټیدلو پروگرامونه جوړول .

یو ځل بیا هم بشری نړی ته د عمل په میدان کی د ازادی دموکراسی او استقلال نه دد فاع او په باطل باندی د حق د بری د یو ځلانده مثال د ځرگندولو په وار د افغانانو نوبت را ورسید . د لوی خدای «ج» په مرسته ددی ډاروونکی مجهز او په شانه تلونکی ځواک سره د افغانانو مستقیمه مقابله د حق په بریالیتوب پای ته ورسیده او پدی ترتیب بشری نړی ته د ازادی او په خپله خوښه د سرنوشت د تعینولو ځلانده تاریخی درس وښودل شو اوس هغه ویرونکی او په شانه تلونکی بلا نشته او د دنیا ډیر اولسونه او واکمنی یې د تاریخ د تیارو او ماتمی ورځو او کالیزو پر ځای اوس د دوی په سرنوشت کی نوو بدلونونو جشنونه لمانځی .

اوس دا سوال را منځ ته کیږی چی کوم لاس چی بشری نړی او مدنیت ته د دومره لوی بدلون مثال ورکوی ایا پخپله ددی حق نلری چی د خپلو قربانیو د نتایجو نه گټه واخلی او یا لږ تر لږه د خپلواکی د گټلی حق نه په استفاده د خپل سیاسی نظام د جوړولو حق ته یې په درنه سترگه وکتل شی ؟!!! آیا د جهان په سیاسی او اقتصادی سرنوشت کی موثر طاقتونه او واکداران دا خبره هم نشی درک کولای چه افغانانان څوک دی او څنگه غواړی ژوند وکړی ؟!!! او ایا دا د یو ملک د ازادی او خپلواکی بی احترامی نده چی د بهر نه د سیاسی نظام د جوړولو لپاره ورته راز راز موډلونه تیاریږی ؟!!!

او که چیرته داسی بهرنی چوکاټو او موډلونه افغانانو ته د منلو وړ وای نو بیا دومره جگړو او درنو قربانیو ته یې څه ضرورت وو ؟!!!

تر کومه حده چی د افغانستان د سیاسی نظام په رابطه د بهر نه د تیل شوو او یا راوړل شوو موډلونو موضوع ده نو دا هر څه زموږ په دی تازه تیر شوی تاریخ کی ډیر ښه و ازمویل شو او لکه چی وایی : « آزموده را آزمودن خطا است! » ځکه چی نتایج یې هم ددی هیواد د بربادی او په جهان کی د کړکیچ د یوی خطری سیمی په توگه د افغانستان د هویت د معرفی کولو نه بل څه نه وو . که غربی دوله سیکلوریزم وو او که شرقی یا شوروی دوله سوسیالیزم دی ټولو موډلونو زموږ په ټولنه کی خپل «موثریت» او د تطبیق او ازمایش اثرات او نتایج هم موږ ته او هم دنیا ته ښه وښودل .

نو ځکه اوس ددی وخت راغلی چی جهانیان باید د افغانی ټولنی د سیاسی ژوندانه د اسلامی سمبالتیا په ضرورت باندی قانع وی او پدی هکله زموږ د ولس د ارادی او تدبیر په لاره کی د خنډونو اچولو پر ځای د ملاتړ او حمایت لاره اختیار کړی او یا لږ تر لږه ددی سره توافق وښیی.

زموږ اولس د خپل سیاسی نظام د جوړولو لپاره اسلامی شریعت غوره کړی او د اسلامی خلافت د تجربه شوو عنعنو په ادامه د لوی خدای «ج» په تکیه او د الهی کلام د ښوونو پر بنا د افغانستان د اسلامی امارت په نوم د سیاسی ، اقتصادی او اجتماعی نظام د جوړولو او ټینگتیا د تدبیر د عملی کیدو ملاتړ کوی او انشا ، الله د لوی خدای «ج» په مرسته او تکیه به د دنیا او اخرت کامیابی زموږ په برخه وی . «اسلام لکه څنگه چی په پاک قرآن کی تعریف کیږی ، عبارت له هغه فطرت څخه دی د کوم په بنا چی انسانان پیدا شوی پس د اسلامی ژوند د طریقو مراعات کول په حقیقت کی د انسانی اصیل طبیعت تحقیق او پلټنه ده ... »

موږ د ټولو هیوادونو او د دوی د سیاسی واکمنیو نه دا غوښتنه او هیله کوو چی دوی زموږ د ولس ددی نیک انتخاب په وړاندی د ولسونو د خپلواکی حق ته د احترام د اصولو په نظر کی نیولو سره وړاو مناسب د ریخ غوره کړی او پدی ترتیب دی دوی د افغانانو له خوا هم د خپل ولس په وړاندی د متقابل احترام توقع ولری.

آثار و پدیده های تاریخی و فرهنگی افغانستان باستان

نظر محمد عزیزي

ذکري پیرامون پدیده ها و آثار فرهنگي کشور!

خوانده گان عزیز آگاهي دارند که امارت اسلامي افغانستان پیوسته سعي ورزیده است تا نه تنها پدیده ها و میراث هاي فرهنگي کشور را به مثابه ، دستآورد هاي ناب و تاریخي هر برهه زمان و تاریخ بي بدیل سرزمین افغانها حفظ و معرفي بدارد بلکه عرصه هاي مختلف تاریخ و آثار باستاني آنرا به منظور آگاهي جوانان ، هموطنان و نسل هاي بعدي به معرفي گیرد . بدین ملحوظ ضرورت مبرم محسوس مي شود تا هر پدیده باستاني در مقام و حالات موجوده اش به منوال اصل اساسي افتخارات کشور در سطح جامعه مان و همانطور فراتر از آن در سطح بین المللي با امتداد کشفیات و فر آورده هاي علمي در دست تحقیق و پژوهش قرار دهد. با وجود یکه حوادث چند دهه اخیر زیان هاي بزرگي بر پدیده ها و پیکره هاي آثار فرهنگي وارد آورده امارت اسلامي افغانستان با التیام بخشیدن این حالت نه تنها در احیا ، و باز سازي موزیم ها بویژه موزیم ملي کابل سلسله تدابیر و فعالیت هاي عملي را از طریق وزارت اطلاعات و فرهنگ و مؤسسات علمي و تحقیقي انجام داده و موفق به دستاورد هاي شاياني گردیده ، بلکه تصمیم اتخاذ نموده تا در پرتو فرمان عالیقدر امیر المؤمنین و مصوبات ریاست الوزرا ، امارت اسلامي افغانستان پیرامون حفظ آثار و پدیده هاي باستاني اقدامات عملي و علمي را انجام بدهد . به تأسي از این اصل تداوم نشر محتواي آثار باستاني ، پدیده ها و میراث هاي فرهنگي کشور را که براي عموم به گونه ، مطالب مقدماتي قابل فهم و معرفي باشد ، بصورت جرجوار در دست طبع قرار میدهد.

میراث فرهنگي سرزمین باستان افغانستان
(اي خانم)

یکي از میراث هاي بزرگ تاریخي و فرهنگي کشور مان در شمال شرق افغانستان جاییکه دریاي آمو و کوکچه در زاویه خود را تقاطع مي بخشد همانا شهر با عظمت پیش از دوره اسلامي یعني آي خانم است.

آي خانم دو کلمه ترکیبي اوزبیکي است که زیر عنوان (ماه--خانم) مروج بوده است ولي نام و تسمیه تاریخي آن بدین منوال نبوده و هر چند که این شهرک یونان باختري با تراوت و زیبایي منظم اعمار گردیده بود ماه شهر ها یا معباد گاه یونانو باختري بوده است .

این شهر در نخستین مراحل زندگي یك کلتور و زائیده هاي هنر معماري و تزئیناتي یوناني دارد ولي در آن پدیده ها و ممیزات بیش از پیش باختري هم مضمر است. موقعیت جناحي این شهرك در دشت قلعه در بلندي قرارگرفته است. بعد از آنکه از پل خواجه غار بطرف شمال حرکت نمائیم به زاویه چپ به سمت شمال شرق متوصل میشویم که بعد از طي طریق بازار به اولین دهانه یا درب این شهر میرسیم.



نمونه زیر ستوني با نیل پایه، قصر آي خانم

این شهرك داراي قصر ها و کاخ ها، خزانه، کتابخانه، ورزشگاه و مکتب آموزشي مقابر ، حمام ها و خطوط کشیده شده آبریز ها و محل بازي هاي عنعنوي بوده و احتمالاً که در عصر سکندر مقدوني ویا توسط خانواده سلوسي هاي شامي اعمار شده باشد، بنیانگزار این شهر و یا یکي از معابد مذهبي داخل این شهرك مرد مشهور و مذهبي یا عالم بنام (کي-نی آس) بوده که بعد از درگذشت آن در همین شهرك یا شهر اي خانم مدفون گردیده بود.

در سال ۳۲۹-۳۲۷ قبل از میلاد زمانیکه سکندر مقدوني سرزمین باختر و سغدیانه را در ماوراالنهر زیر سلطه خود در آورد شهر هایي بنام خویش اعمار کرد و شاید همین شهر آي خانم یکي از سکندریه هاي اکسوس قدیم یا (آمو دریا) باشد کتیبه از اثر حفریات این شهرك بدست آمد که جزء از عقاید فلسفه اخلاقي

ص ۳

مسلمانې میرمنې !

حنیفه زاهد شاه جویی

مسلمانې میرمنې ! ته د انساني ټولنې یو ډېر موثر ارزښتناک او بنسټیز عنصر یې. ستا شته والی د انساني ټولنې د تکامل او بشپړوالي لامل دی. ته د انساني ژوندون په پړاونو کې د خپل مسلمان خاوند تر څنګ د هغه بشپړه همکاره او په ټولو اجتماعي، سیاسي، اخلاقي او معاشرتي ستونزو کې د هغه د لارې ملګرې یې.

په الهي ښکلو او امرو کې ستا خاوند ته لنا سره د ډېرې ښې ګډارې په اړه ښکلې توصیې شوې ستا د فردي او اجتماعي ژوند د ښه سمبالښت په اړه په الهي سپېڅلي کتاب کې ډېر آیتونه نازل شوي.

مسلمانې میرمنې !

ته د لوی څښتن په نزد یو ځانګړی ارزښتناک مخلوق یې د نباته ستا د راتلو زیږیدنې په لومړیو شیبو کې هغه کور د الهي رحمت مورد ګرځي د ماشومتوب په بې مسؤلیته دوره کې ستا نیکه روزنه ستا د مور او پلار لپاره د جنت ددخول لامل ګرځي. کله چې بیا ته د مکلفیت مرحلې ته رسیږې او د میرمنتوب د ندې پغاړه کیږې بیا د نبوي ارشاد له مخې ته د ژوند تر ټولو غوره متاع او ستا ددې درانه مقام د لا درنښت په خاطر ستا د ژوند ټول لګښتونه او ستونزې ستا د خاوند په ذمه وار اچول کیږي. او چې کله مورتوب په درانه حیثیت ویاړمنه کیږې بیا دې مقام لا درنیږي، جنت دې تر پښو لاندې کیږي د جنت خطاب درته کیږي، د خپل اولاد لپاره په ټول ژوند کې تر بل هر چا ته حقداره بلل کیږې، ستا عاق والی د اولاد لپاره کبیره ګناه بلل کیږي، لنډه دا چې ته د نبوي هدایاتو له مخې غوره خزانه، بهترینه متاع او د اطمینان او ارامې عالي نمونه یې.

مسلمانې میرمنې !

ته پاسلامي تاریخ کې بهترین مقام لرې. اسلامي تاریخ ستا د صالحو اسلافو په زرینو کارنامو باندې تل ویاړي. ته د ام المومنین حضرت عایشې صدیقې پلوې یې کومې چې اسلامي امت ته د دین ډېر حکمونه رسولي.

حضرت فاطمه الزهرا «رض» هم ستا په څېر یوه میرمن وه کومې ته چې به د انسانیت لارښود په مجلس کې د شفقت او خواخوږۍ په منظور ولاړېدو او هغه به یې په مبارک تندي ښکلوله او په خپل ځای به یې کېښنوله.

ته د حضرت خنسا «رض» لار تلونکې یې کومه چې په اسلامي تاریخ کې د قربانۍ او سربښندنې نمونه پیژندل شوې.

ته د بلخې رابعې «رح» پیروه یې کومه چې د زهد، ریاضت او تزکیې سمبول وه.

ته د نازو انا د صداقت، رښتولۍ او دیانت ښکارندویه یې کومې چې د میرویس نیکه په څېر مسلمان، مجاهد، او غازي شخصیت زموږ افغاني ټولنې ته وړاندې کړی.

مسلمانې میرمنې!

د لوی څښتن مقدس اوامر، نبوي سپېڅلي ارشادات او د خپلو تېرو امجادو زرینې کارنامې ټول ستا لپاره د دعوت، جهاد او مبارزې په لار کې د کامیابۍ غوره وسایل دي.

ته کولای شې چې په همدغو وسایلو باندې په عمل کولو سره د رښتیانې بریالیتوب او سعادت پړاو ته ځان ورسوې.

ته تر اوسه پورې د جهاد، دعوت او مبارزې له ډېرو ازمایښتونو څخه بریالۍ راوتلې یې د مقدس اسلامي جهاد په دوران کې د خپل مجاهدینو ورونو تر څنګ تا هم جهادي رسالت په بشپړې ایمانداري سره تر سره کړ، خو لکه څنګه چې ژوند ټول ازمایښت او امتحان دی ته اوس له یوه بل امتحان سره مخامخ یې له دښمنانو سره په یوه بله مقابله کې راښکېل یې دښمنانو دې له بل مرچل نه ته تر ګذار لاندې راوستې یې.

او هغه دا چې نن هغوی ستا د حقوقو د لاس ته راوړلو پنامه نړیواله ډرامه پیل کړې. هغوی غواړي ستا د حقوقو پنامه ستا پاک اصیل هویت محو کړي. هغوی غواړي ستا د حقوقو پنامه لتا څخه د یوې شهوت انګیزه وسیلې په توګه کار واخلي. هغوی غواړي ستا د حقوق پنامه لتا څخه د هغه جال کار واخلي کوم چې هغوی د خپلو شومو اغراضو د لاس ته راوړلو پغرض غوړولی. هغوی غواړي ستا د حقوقو پنامه تا د انسانیت له لوړ مقام څخه د حیوانیت ټیټې کندې ته وغورځوي.

هغوی غواړي ستا د حقوقو پنامه تاته دا بدې لعنت ذلت، خجالت او سر ټیټې پتې درپشا کړي.

او بالاخره هغوی غواړي ستا د حقوقو پنامه تاته د لوی څښتن د دښمنۍ او د اسلام د مقابلې زنار در په غاړه کړي.

نو ای مسلمانې میرمنې !

ته هغوی ښه پیژنې، د ایمان په بصیرت یې پیژنې د خپلې اسلامي سپېڅلې عقیدې په رڼایې پیژنې. پام چې د هغوی ددې زهرجنو تبلیغاتو تر اغېزې لاندې رانشې. اوس ته پوائې له دې لوی ازمایښت سره مخامخ یې په دې لوی ازمایښت کې دې د موفقیت یوائنې وسیله په قرآني لارښونو عمل کول دي او بس څښتن دې بریالیتوب په نصیب کړه.

آمین .

زن و جامعه

زنان باردار ای مرد هوشیار
اگر وقت ولادت مار زایند
از آن بهتر به نزدیک خردمند
که فرزندان ناهموار زایند

شیخ مصلح الدین شیرازی

د افغانۍ میرمنو ستونزې او د لویدیځ درواغجنه خواخوږي

فاروق

هسې خو نړۍ وال کفر په ټولو مسلمانانو پسې را اخیستی او یوه شیبه یې هم له بې لارې کولو، ځورولو او تنګولو نه غافله کیږي، په اسلامي هیوادونو کې جنجالونه، غمونه او خپل منځي جنګونه را پیدا کول او له ورې خبرې غټه جوړول د دوی همیشنی عادت دی، خو زموږ په ګران هیواد کې د هغوی لاس وهنې بیخي بر بندې دي او دا ځکه چې له بده مرغه زموږ د دوو تیرو لسیزو پېښې داسې وې چې تر ډېره یې پردي لاس وهنې ته لاره هواره کړه په دې لړ کې یو له هغو چاودونو چې پردي پکې د نوک په ځای سوک منډي هماغه د ښځو خبره ده، د لویدیځ والو په ګومان له افغان میرمنو سره خورا ظالمانه چلند کیږي، له زده کړو را ایساري دي، روغتیایي مرستې نه ورته رسیږي او په کلني ډول یو زیات شمیر د سیې خورو د نشتوالي له امله او څو مره نورې د امیندوارۍ او زیږون پر وخت د مناسبې درملنې او پالنې نه موندلو له لاسه بې اجله مري.

موږ په دې هکله څه سر نه ورسره خوږوو او دا ټولې ستونزې سبې او را پیښې بولو، خو یوازې په دې خپه یو چې ولې زموږ په تپونو مالګې دوړوئ ؟ نړۍ وال خو ټول په دې خبر دي چې افغانان لس کاله د یرغلګر سره پوځ سره په غورځو پر ځواخته وا او په پای کې یې له ځان سره سره نیمه نړۍ نوره هم د خپلې توري په زور دروس له مریېتوبه وژغورله، په دې لار کې یې سرونه وبایلل د کور کلي او ټولې آبادي ورانیدو او لوټه لوټه کیدو ته یې غاړه کېښوده او ټولې اقتصادي زیرمې یې له منځه ولاړې له روسي ماتې وروسته بیا هم دا یوولس کاله کیږي چې مجاهد افغانان د هماغه روسي لاس وهنې له لاسه په یو ډول او بل ډول د پردیو نوکرانو سره په کورنې جګړه اخته دي، او د نړۍ بیلابیل لوري ټول په دې لګیا دي چې په څه ډول په افغانستان کې ګډوډي او بې ثباتي راولي او په څه شان له فساد جوړونکو او جګړه مارو ډلو سره مرستې وکړي، په دې هکله لاس وهونکو هیوادونو له هیڅ شي مخ وانه ړاوه او د خپلو نوکرانو د پیاوړتیا راز راز هڅې یې وکړې او دا دی وینو چې ګران هیواد مو د همدغې راتپلې جګړې په اور کې لاسوځي او ورانیږي - نو که سړی لږ انصاف او په خپل ګریوان سر ښکته کړي خامخا به په دې خبره قانع شي چې باره په افغانانو دی سل شاهسې وي، چې لا تر اوسه یې خپل شته والی ثابت کړی او لګیا دی د خپل ژوند د ړیړاو ستونزو سره مبارزه کوي !!

په یو داسې غمونکې او ځوروونکې پړاو کې چې له تکړه تکړه نارینه و کار، روزګار او درک غلط دی نو څنګه به په ځانګړې ډول د ښځو پالنې ته د چا لاس ورسیږي ؟ کله چې ښوونځي یو مخ وران، روغتونونه تش او بې وسایلو او چلوونکې اداري د افلاس او نیستۍ وروستي برید ته رسیدلي وي، په څه ډول به د ښځو ستونزې هوارې کړې شي ؟

نو که لویدیځ رښتیا کوي :

د ناروا بندیزونو په ځای دې له افغانانو سره مرسته وکړي، ښوونځي دې جوړ کړي، روغتیایي مرکزونه دې ودان کړي، د مېندو او ماشومانو سره د ښې درملنې او سیې خورو مرستندویه پروګرامونه دې پیل کړي او په سل ګونو نورو ټولنیزو او په خاص ډول هغو کارو کې چې په ښځو پورې اړه لري، د پرمختګ او پیاوړتیا لاس دې را اوږد کړي دا راز مرستې به یې افغانانو ته هغو مره د قدر وړ وي لکه د جهاد په وخت کې یې چې ورسره کړې وې او ښه منته به یې وشي.

نه پوهیږو دا کوم لاملونه دي چې لویدیځ وال یې له دې ډول مرستو څخه ایسار کړې او د هغوی مخه یې نیولې ده ؟ ولې یې دې پلوته نه پام کیږي ؟ آیا رښتیا هم لویدیځ له افغانۍ میرمنو سره خواخوږي لري ؟

نن سبا امریکې او ملګرو یې د همدې خواخوږۍ په نامه په داسې پلانونو لاس پورې کړې چې سراسر د افغانانو له خپل دیني او ملي ثقافت سره ټکر لري او په راتلونکې وخت کې هم افغان کورنۍ ژوند له سخت ګواښ سره مخامخ کوي او د هغو اجتماعي ستونزو لامل ګرځي چې همدا اوس لویدیځ ورسره لاس ګریوان دي، امریکا له یوې خوا په پرانیستې غیږ د ځانګړو شرایطو درلودونکې ښځې په مهاجرت منې او په خپلو ټولو وسایلو سره یې هغې خواته هڅوي، لکه چې دا اوس اوس یې شپږو زرو ښځو ته په خپل هیواد کې د مرستې او ځای ورکولو لوز کړی دی او له بلې خوا یې زموږ په ګاونډیو هیوادو کې د یو شمیر بې دینه او ناولو ښځو سره اړیکې پیل کړې او په دې لړ کې یې ډېرې خلقي او پرچمي ښځې راټولې کړې او د پلاټې او بستانې ښځینه ټولنې نومونه یې ورباندې ایښي دي امریکنې چارواکي له دغو ټولنو او افرادو سره په اړیکو ټینګولو داسې څرګندوي چې په افغانستان کې د ښځو د پرمختګ او آزادۍ په لور هڅې کوي او په سیمه کې د ښځو سوکالۍ او نیکمرغۍ غواړي، دوی په دې لار کې لګښتونه کوي او د ځینو خاصو وګړو جیبونه ورډکوي تر څو وکولای شي په افغانانو خپل د باور زیات او خلکو ته نورې اندیښنې هم ورواچوي نو په داسې حالاتو کې به څوک وي چې دغسې لمسونکې خوځښتونه بیا هم د ښځو د ستونزو په حل کې مرسته وګڼي ! بې شکه چې د مرستو لارې معلومې او کاړه نیتونه څرګند دي.

آثار و پدیده هاي ...

از کشفیات عمده در سالهاي ۱۹۷۷ در قصر آي خانم خزانه یي بوده که مقارن تاریخ گذاري آن به ۱۵۰ ق.م میرسد در این خزانه کوزچه هاي خزانه دار که در آن احتمالاً دانه ها یا احجار قیمتي و سکه ها محفوظ میشد، در اثر تاراج و حملات کوچي هاي آنسوي دریاي آمو شکسته شده و شاید در همان زمان به تاراج رفته باشد. قصر این شهرك داراي پلان مفصل و منظم بوده یعني قصر در مرکز شهر قرار داشت و به گونه چهار ضلعي که هر ضلع آن ۳۰۰ متر بوده و صحن قصر ۱۸ x-۱۳۷- متر و در اطراف آن ۱۱۸ عمود ها و کمان ها اعمار گردیده و تالار مدخل قصر ۱۷ x ۲٦متر را احتواءمي نمود، حمام ها و شستشو گاه ها هم از سنگ هاي رنگه و بعضاً قیمتي به شکل دانه شان یا موزائیك تهیه گردیده و دیوار ها از خشت هاي خام و پخته بوده و نیز کار گاه هنري کشف گردیده که صنعتگران یوناني در روي عاج هاي هندي که از آنجا وارد میگردید تزئینات متعددي و از سنگ هاي لاجورد و بعضي سنگ هاي قیمتي اشیاي زینتي براي قصر حکمران آن شهرك مي ساختند و در تراش وصیقل سازي زیر پایه ها و سر پایه هاي قصر از چرخ استفاده مي کردند بناءً آي خانم یکي از قدیمي ترین میراث گرانبهاي مردم افغانستان در یك دوره تاریخي بوده میتواند.

یونانیان بوده و این نوع وجیزه ها و کتیبه ها در یونان باستان نیز موجود بوده متن این کتیبه را که محتواي آن پند و نصیحت است چنین طرح میکند :

(در کودکي ادب نگهدار، در جواني محتاط و با باور باش، در میانسالي براي دیگران کمك کن و آنها را براه راست رهنمون شو، در پیري آنها را نصیحت کن و در نزدیك مرگ غمگین مباش) این کتیبه در سنگي چونه یي حك گردیده و جزء رسوم و آداب یونانیان مقیم در باختر زمین به شمار میرفت تاریخ اعمار آن بیش از ۲۵۰ ق. م بوده و انقراض این شکوه ساختماني آي خانم را دانشمندان در ۱۳۰-۱۳۵ ق. م دانسته اند.

سنگر فلاح

اي عظمتش به جمله، عالم فسانه ها
غمنامه هاش شهره، دور زمانه ها
این کوه، این درخت و این جویبار پاك
الهام بهترین زهمه شاعرانه ها
این زخم هاي کهنه و این داغ هاي رنج
برگریه و ترانه سرودن بهانه ها
هر قلعه اش چو بیشه، سردي که زیستند
شیران پر غرور در این آشیانه ها
میدان سر بریدن اهر یمنان سرخ
خاك عزیز وخفته میانش جوانه ها
این سنگر فلاح زګرګان زرد موي
شمشیر هاي سر به فلك درمیانه ها
عزم و غرور و همت مردان این دیار
شد جاودانه تر زهمه جاودانه ها
در موج موج رودش و در صخره صخره اش
آزادي است نغز ترین ترانه ها
اینجا بهار زرد و زمستان سرخ داشت
از خون و آتش است در اینجا نشانه ها
ره مي کشد نګاه ترم «یادګار» یا
باکوله بار حیرت از این بیکرانه ها

محمد یوسف «یادګاری»

ذهني ازموینه

دا هم ددی گڼی پوښتنی :

۱- سمنت چا کشف کړل ؟
۲- هغه څوک و چی دوه زره پنځه سوه اختراع گانی ئی کړی وی ؟
۳- دسویس کانال د چالخوا وکیندل شو ؟
٤- په نړی کی کوم هیواد دی چی ډیری زلزلی پکی کیږی ؟
٥- په ادبیاتو کی دنوبل جایزه دلومړی ځل لپاره چا ته ورکړ ل شوه ؟

بقیه به تأسی از ...

محترم مولوی عبدالکبیر معاون رئیس‌الوزراء ورئیس تنظیمه زون شرق ووالی ولایت ننگرهار محترم ملاخیر الله خیر خواه رئیس تنظیمه زون شمال غرب ووالی هرات محترم الحاج ملا محمد حسن رحمانی رئیس تنظیمه زون جنوب غرب ووالی ولایت کندهار - محترم ملا نور الله نوری رئیس تنظیمه زون شمال ووالی ولایت بلخ ، محترم الحاج ملا محمد شفیق آخند رئیس تنظیمه زون جنوب ووالی ولایت خوست تدویر یافته بود در حالیکه محترم ملا نور الدین ترابی وزیر عدلیه محترم مولوی سید غیاث الدین آغا وزیر معارف ، محترم ملا امیر خان «متقی» رئیس عمومی اداره امور و محترم ملا عبدالمنان نیازی والی ولایت کابل نیز حاضر بودند ، روی یك سلسله موضوعات مهم امنیتی و اداری کشور بحث های همه جانبه و مفصل صورت گرفت.

در این جلسه ضمن آنکه طبق رهنمود و هدایات خرد مندانه عالیقدر امیرالمؤمنین بتأمین امنیت هرچه بهتر و بیش از پیش و بهبود امور اداری کشور بمنظور آسایش و آرامی مردم متدین کشور بعمل آمد در زمینه تدابیر لازم ومشخص اتخاذ گردید.

کار جلسه ادامه دارد.

بقیه خدمات صحی برای ...

بویژه در قریه هاي دور دست ، این مشکل بوجود مي آید که تعداد کثیري متأسفانه ، از خواهران ما از خدمات لازم صحي، محروم بمانند. مثلاً : هم اکنون در ساحه کار ما، به بالون هاي بخش آکسیجن، دستگاه اینډوس کوپي، اي-سي-جي و غیره وسایل طبي ضرورت است.

دوکتورس شیما «عظیمي» با وصف کمبود هاي محسوس از ناحیه ادویه و وسایل تخنیکي و طبي میگوید : با آنهم هیچ مریضي در بخش داخله سرویس خواهران از خدمات صحي محروم نمي ماند بلکه کمك هاي بسیار مفید و حیاتي نیز صورت میگیرد. حتي خواهرانیکه در حالات پیشرفته یك مرض مزمن مراجعه میکنند، پس از مدتي بستر و بهبودي حاصل نموده اند که این امر مایه خوشي و مباهات ما است .

مصاحبه کننده : نجیبه «فریادي»

کشمیري مجاهدین ...

هندی عسکر ټپیان شویدی. دیوبل خبر له مخی کشمیری مبارزینو یو بل هندی عسکرهم دکشمیر په بله برخه کی وژلی دی. په یوه بله پیښه کی دوه تنه کشمیری مبارزین له هندی عسکرو سره په نښته کی شهیدان شویدی.

بقیه کار ترمیم و ...

ساختمان وزارت معارف ا.ا.ا در مرکز شهر زیباي کابل (ده افغانان) موقعیت داشته و قبل از سال ۱۳٤۲ از بودجه ریاست انحصارات دولتي وقت در ساحه ۳٦۰۸ متر مربع زمین در شش طبقه به شکل پخته و اساسي اعمار گردیده و با بهترین سیستم شبکه هاي انجنیري و تخنیکي (آبرساني و- کانالیزاسیون، تهویه و مرکز گرمي، برق و تیلفون، لفت و آشپزخانه عصري مجهز میباشد.

موصوف افزودند: متأسفانه از اثر جنگهاي ذات البیني اخیر که قسمت هاي زیاد شهر زیباي کابل را به مخروبه بي مبدل ساخت خسارات هنگفتي بر پیکر ساختمان این مرکز علم و فرهنگ وارد و قسمت هاي زیاد شبکه ها و تأسیسات آن فلج گردید. که موجبات برهم خوردن سیستم اداري و بسا مشکلات دیگر را ببار آورده است. روي این ملحوظ هیأت رهبري وزارت معارف در آغاز سال جاري با اغتنام وقت مساعد تصمیم لازم در زمینه ترمیم ساختمان و تأسیسات مربوطه آن اتخاذ نموده بعد از اعلان داوطلبي و مناقصه ترمیم اساسي بخش هاي عمده آن از قبیل بخشهاي ساختماني، شبکه هاي انجنیري و تخنیکي و شیشه اندازي با شرکت ساختماني باختر لمتد(برنده مناقصه) با مبلغ (۱۱۷٦۰۰۰۰۰) افغاني به شکل قیمت في واحد کار که از بودجه انکشافي بالأثر توجه و منظوري مقامات عالي ا.ا.ا تمویل میگردد عقد قرار داد نموده است. البته اکمال امورات احیای مجدد مدت هشت ماه را در برخواهد گرفت. امور مربوط به قرار داد عقد شده تحت نظر مستقیم انجنیران ریاست تعمیرات معارف و کمیسیون موظف متشکل از نمایندگان ریاست هاي اداري، تعمیرات و مشاوریت مقام وزارت بتاریخ ۱۵/٥/۱٤۲۰ آغاز و تاکنون ۹۰٪ پیشرفت نموده است .

در اخیر محترم «شهید خیل» علاوه کردند : انشاء الله مطابق شرایط قرار داد بقیه امورات باز سازي این کانون علم و معرفت نیز اجرا و زیبایي و ارزش از دست رفته آن دو باره اعاده خواهد شد.

سید یوسف

بقیه پل کلنتن خواهان ...

متحده امریکا را رد کرده است .

طبق یك خبر دیگر در دوره ویندېنوی واقع در جنوب چیچن جنگ های شدید میان عساکر اشغالگر روسی ومجاهدین چیچن جریان دارد ، سازمان امنیت و همکاری اروپا درکوه های گرجستان در سرحد باچیچن یك دفتر به هشت ناظر دایمی باز نموده است .

اطلاعیه وزارت عدلیه

بخش قانون گذاری ریاست عمومی تفتیش وزارت عدلیه به آنعده اشخاصیکه بسویه قانونپوه ، قانونوال ، قانون پال ، قانون مل و قانونیار درجه علمی داشته باشند ضرورت دارد.

اشخاصیکه دارای چنین شرایط چه در داخل و چه در خارج کشور بوده و خواهش تقرر داشته باشند به وزارت عدلیه مراجعه نمایند به معاش امتیازی پذیرفته میشود.

بقیه محترم پروفیسور ...

واقعاً اسلامی در افغانستان بوده است . هر گاه مردم افغانستان چنین آرزو نمیداشتند هرگز دست به جهاد نمی زدند وبهترین واصیل ترین فرزندان شان را در این راه فدا نمی‌ساختند.

بر علاوه این موارد و پیروزیهای سیاسی که نصیب امارت اسلامی افغانستان گردیده است معیار هایي را که علمای غرب در رابطه بمشروعیت و قانونیت یك نظام مطرح میسازند نیز بدون تردید و بطوّر آشکار توسط امارت اسلامی افغانستان تکمیل شده است که نظر به این معیار ها نیز امارت اسلامی افغانستان از قانونیت و مشروعیت کامل سیاسی برخوردار است . عده قلیلی که ازحقیقت انکار میکنند آنها کسانی هستند که با خود از گروه های الحادی بوده ویا فاقد دانش سیاسی واقتصادی اند. موصوف در رابطه به تلاشهایی که در روم ، قبرس ، بن وسایر کشورها در رابطه به معضله افغانستان جریان دارد گفت : نظر من در رابطه چنین تلاشها وجلسات نام نهاد منفی است و آن به این معنی که چنین جلسات دردی را دوا کرده نمیتواند و کاری پیشبرده نمیتواند.

محترم دکتور داودیار در رابطه به فعالیت های کشور های ٦ + ۲ که به اصطلاح پروسه حکومت باپایه هاي وسیع را مطرح مینمایند چنین ابراز نظر نمودند : زمینه سازی برای به وجود آمدن این گروه اصلاً توسط مخالفین مردم افغانستان و دشمنان تاریخی ما صورت گرفته است .

به نظر من این کشور ها در حل قضیه افغانستان هیچ مؤثریت نداشته و کسانیکه در این گروه شامل اند مداخله کننده در امور داخلی افغانستان میباشند که ادامه جنگ در کشور نیز نتیجه این مداخلات میباشد. ما افغانهائیکه در خارج هستیم این گروه را کاملاً رد کرده و نقش این گروه را جز بدبختی دوامدار در افغانستان چیز دیگری نمیدانیم .

دافغانستان اسلامی ...

دځرنگوالی رپوټ وړاندی شو.

وروسته دبهرنیو چارو وزارت محترم معین دخپرو په ترڅ کی دافغانستان له اړو او مستحقو خلکو سره ددغی کمیټی دبشری مرستو او دکار او فعالیت له امله چی له توپیر پرته تر سره کیږی قدر دانی وکړ او وی ویل دافغانستان اسلامی امارت دالهی حکمونو او دمحمدی غرا شریعت په رڼا کی توپیر مردود بولی او ددی غوښتنه کوی چی دنړیوالو خیریه موسسو په تیره بیا د آی . سی . آر . سی کمیټی ټولی مرستی دیوی محدودی سیمی په ګډون چی دافغانستان داسلامی امارت دمخالفینو تر واکمنی لاندی ده . دهیواد په ټولو برخو کی اړو خلکو ته ورسیږی په پای کی دبهرنیو چارو وزارت محترم معین په دی برخه کی داسانتیاوو په برابرولو په لاره کی هر راز همکاری څرګنده کړه .

دکونړ مجلې ...

دخپریدو په باب هر اړخیزی خبری وشوی او ددغی مجلی دخپرونو دلازیات ښه والی په مقصد لازمی سلامشوری وکړی.

ددغی غونډی په ترڅ کی دکونړ ولایت داطلاعاتو او کلتور رئیس محترم مولوی شمس الدین منصور ددغه ولایت له ادیبانو او لیکوالو څخه وغوښتل چی دخپل اصیل اسلامی او افغانی فرهنگ د ساتنی په خاطر له هیڅ راز هلو ځلو څخه ډډه ونه کړی او په دی لاره کی هر اړخیزه همکاری وکړی.

په ډیره اسمیل ...

په سرشیندنی او ځان تیریدنی سره داسلامی امارت ترڅنګ مبارزی او جهاد ته تیار یو .

دوی دآریانا افغان هوایی شرکت دتستول شوی الوتکی په باره کی چی همدا اوس دبریتانیا په هوایی دگر کی ناسته ده دملګرو ملتو له سازمان او دبریتانیا له هیواد نه په کلکه وغوښتل چی دیر ژر دغه الوتکه بیرته افغانستان ته سته کړی او تښتونکی یی له نړیوالو اصولو سره سم محاکمه شی.

دوی زیاته کړه هغه سوله او امنیت چی همدا اوس په افغانستان کی تامین دی ساری یی دنړی په ټولو هیوادونو کی نه لیدل کیږی او دملګرو ملتو له سازمان نه یی وغوښتل چی دافغانستان اوسنی اسلامی امارت چی دافغانستان دخلکو رښتینی استازی دی په رسمیت وپیژنی .

دغوندی برخه والو دملګرو ملتو په سازمان باندی اعتراض وکړ او زیاته یی کړه دملګرو ملتو سازمان دافغانستان پخوانی حکومت چی آن دهیواد په یوی څنډی باندی هم واکمنی نه لری په رسمیت پیژنی باید دافغانستان اوسنی واقعیتونه په پام کی ونیسی اود افغانستان داسلامی امارت چی همدا اوس دهیواد په سلو کی په څه دپاسه نوی خاوره باندی کنترول لری او امنیت یی تامین کړیدی او دمسلمانانو دغوښتنی نظام یی نافذ کړیدی په رسمیت وپیژنی .

بقیه محترم وزیر مخابرات ...

ولایت فاریاب گردیده ظهر دیروز با محترم ملا دین محمد آخند معاون ولایت فاریاب روی یك سلسله موضوعات مخابراتی صحبت بعمل آورد سپس محترم وزیر مخابرات با هیئت معیتی شان ضمن بازدید از بخش های مختلف ریاست مخابرات ولایت فاریاب در حالیکه در هر بخش از سوی رئیس مخابرات آنولایت معلومات ارائه میگردید چگونگی امور واجراآت شعبات مربوط رامورد غور وبررسی قرار داده و جهت بهبود هرچه بهتر امور مخابراتی در آنولایت به مسئولین وکارمندان ذیربط مشوره های سودمند داد .

د ایران په ټاکنو ...

برخه گټلی وی خو د پوره تصویر ثابتیدل به ډیر وخت ونیسی ځکه چی درایو شمیره په لاسونو ترسره کیږی . اکثره رایه ورکوونکی په تیره ځوانان اوښځی په څرگنده بونوی پارلمان غواړی چی د منځ لاری ولس مشر محمد خاتمی له اصلاحی پروگرامونو سره همکاری وکړی. ټلونکی پارلمان کی د زاړه پالوونپروا ک چلیده چی دښاغلی خاتمی د پروگرامونو مخه به یی نیوله او دهغه په څرنګوی ملګرو بی ډیر سخت برید ونه وکړل . دایران لوی مذهبی مشر آیت الله خامنه‌یی چی ورته دمحافظه کاره پلوی په سترگه کتل کیږی له دی چی زیاتو خلکو په ټاکنوکی ګډون کړی خوښی څرگنده کړی ده.

هغه وویل : دا داسلامی سیستم د تغییر په ما ناده

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

نظري به انتخابات پارلماني در ایران

از چندي به اینطرف انتخابات پارلماني در ایران مورد توجه رسانه هاي خبري در سراسر جهان قرار داشته است. آنچه که این انتخابات را چنین در محراق توجه قرار داد رقابت میان دو جناح (محافظه کار) و (اصلاح طلب) در عرصه سیاست ایران بود. انتخابات روز جمعه گذشته بر گزار گردید که از کثرت اشتراك کنندگان در راي دهي نیز اهمیت آن مشخص است .

چرا این انتخابات اینهمه توجه بر انگیز بوده است ؟ علت مهم همانگونه که قبلاً اشاره شد رقابت میان دو جناح است جناحي که در طول دو دهه گذشته بر ایران حکم رانده و جناحي که بر خوردار از پشتوانه نسل جوان تلاش دارد چهره جدید از ایران موافق به نیاز ها و خواست هاي قرن جدید به جهان عرضه کند.

پیروزي انقلاب ایران در سال ۱۳٥۷ نیز بیشتر مدیون نسل جوان این کشور بود که در گردههایي مذهبي و غیر مذهبي متشکل گردیده بودند. این اختلاف در آغاز کار مشهود نبود و همه خواهان سرنگوني رژیم شاه و بر قراري نظام جدید برهبري آیت الله خمیني بودند اما بعد از اعلام جمهوري اسلامي رفته رفته اختلافات عمیق تر شد تا آنجا که کار به ترور و کشتار جنگ هاي خیاباني کشید.

در آن موقع شرایط و جو سیاسي و نیز جنگ با عراق به تحکیم موضع محافظه کاران انجامید و آنها موفق شدند تا تمام رقباي خود را از صحنه بیرون نموده و خود با قدرت تمام بر ایران حکم رانند. و هر کسي که خواهان اصلاح گردید با چماق طرد و تکفیر از صحنه رانده شد و یا به قتل رسید این روند گریبان کساني را نیز گرفت که در مبارزه علیه شاه از تازه بدولت رسیده ها پیشگام تر بودند هر که با این روند همگام نشد مارك (ضد انقلاب) خورد.

محافظه کاران اسیر شعار هاي پر طمطراق خود بودند ولي آن شعار ها هرگز در عمل پیاده نشد ملت در انتظار بهبود وضع اقتصادي کشور بود ولي دولت مشکلات ناشي از جنگ و پیامد هاي آنرا بهانه مي آورد محافظه کاران همیشه در معرض این انتقاد قرار داشتند که طرحهاي روشن و عملي براي بهبود وضع اقتصادي کشور ندارند.

از نسل جواني که انقلاب پیروزي خود را مدیون آنها میداند گروه کثیري در جنگ با عراق جان باختند و جمعي نیز با دست و پاي بریده به خانه برگشتند نفوس ایران بسرعت در حال افزایش بود چنانچه در طول بیست سال گذشته نفوس این کشور دو برابر گردیده است .

نسل جدید که بعد از پیروزي انقلاب به سن رشد و جواني رسیده است در حقیقت نسل انقلاب است نسلي است که (شاه) را بخاطر ندارد و با روحیه دوران بعد از پیروزي انقلاب تربیه شده ولي با وجود این حقیقت این نسل جوان و تحصیلکرده محافظه کاري را نمي پسندد و این مسئله موجب وحشت شدید جناحهاي محافظه کار است .

محافظه کاران با وجود اینکه میدانند از ۳۸ میلیون افراد واجد صلاحیت راي دهي اکثریت جانبدار اصلاح و تغییر در نظام ایران اند از ابراز این نگراني خود داري نکرده اند که آنچه که امروز بنام اصلاح طلبي در ایران رخ میدهد تضعیف خط مشي است که رهبري انقلاب در آغاز براي آن مشخص نموده بود. بعضي از محافظه کاران چنین استدلال مي کنند که اگر صرفاً حق با کساني باشد که بیشترین مردم (اکثریت) از آنها حمایت مي کنند پس چرا قرآن مجید اکثریت منحرف از مسیر حق را بر حق نمي داند ؟

این بحث ها از آغاز انقلاب وجود داشت که مخالفین محافظه کاري آنرا نوعي «تمسك شرعي» بمنظور توجیه استبداد یك اقلیت کوچك بر اکثریت تعبیر مي کردند ولي اکنون وضع کاملاً دگرگون شده است .

اصلاح طلبان نمي گویند که به آرمانهاي انقلاب اسلامي و مسیري که از ابتدا براي آن مشخص گردیده نا باورند بلکه آنها استدلال مي کنند که بین اصول غیر قابل انحراف که بنیاد نظام اسلامي را تشکیل میدهد و مسایل مستحدث که نظر به شرایط زمان نیازمند باز نگري و اجتهاد است باید فرق قایل شد و اگر ما چنین نکنیم جامعه خشك و منجمد مي شود و تلاش و تحرك در جهت پیشرفت ره به رکود خواهد برد و در نتیجه دشمنان اسلام با استناد به آن خواهند گفت که نظام اسلامي با شرایط امروز جهان سر سازگاري و هماهنگي ندارد. ما باید یك جامعه نمونه(الگو) بسازیم تا جهانیان به حقانیت اسلام (که در اینجا بیشتر تاکید بر مذهب تشیع است) پی ببرند.

این انتخابات که در تاریخ ایران هرگز سابقه نداشته است نوعي ریفراندم براي تایید رئیس جمهور ایران (خاتمي) نیز تلقي مي شود و هر چند تا تحریر این سطور نتیجه قطعي و نهایي انتخابات معلوم نیست ولي از قراین چنین بر مي آید که محافظه کاران در معرض شکست قرار دارند و همانگونه که یکي از سیاستمداران اصلاح طلب در ایران پیشبیني کرده بود ملت ایران درین انتخابات باراي خود مجلس نمایندگان قبلي را که در آن محافظه کاران در اکثریت بودند (خانه تکاني) خواهد کرد !

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Sageb
Printed by: Emirat Printing Press